مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۶/۰۹/۰۴

# مات قدمونه



درد مي هماغه دی
او زخمونه هماغه دي
بس یوازې
دی وختونو دا را زده کړل
چي مي اوښکي
له دی خلکو
څنګه پټی وساتمه
لکه باران لاندي ولاړه دنګه ونه !
چي له ليری روغه ښکاری
خو هېڅوک پرې نه پوهېږي
چي توپان يی په سينه کي
څومره ځانګي ماتي کړي ؟
زه چي خاندم
فکر مه کوه چي زخم مي روغ شوی
ځيني اوښکي
له سترګو څخه نه !
د چا د زړه منځ کی بهيږي
نو
درد می هماغه دی
او زخمونه هماغه دي
دی وختونو دا رازده کړل
څنګه اوښکو کي موسکی شم
څنګه جوړ کړم له کاغذه
د غاټولو سره ګلونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ